PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او ای انسانه! نه نه ګوری چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولي چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ۶۵ - ۶۶ آیتونه)

درس حدیث

انس رضی الله عنه می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود:
به برادرت چه ظالم باشد و چه مظلوم، کمک کن. اصحاب گفتند: ای رسول خدا! کمک به مظلوم، روشن است ولی چگونه به ظالم کمک کنیم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: دست او را بگیرید و از ظلم کردن، باز دارید. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۹ مه ګڼه، پرله پسې ۲۰۸ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د غبرګولی لومړی د۱۴۳۴ هـ ق د رجب ۱۲ مه د۲۰۱۳ م د مې ۲۲ مه

قیوم کرزی رسماً نامزدی خود را در انتخابات ریاست جمهوری اعلام کرد

محمود کرزی می گوید که در مورد نامزدی برادرش با حامد کرزی رییس جمهوری کشور، صحبت نکرده و تا هنوز آقای کرزی نیز در این مورد واکنش نشان نداده است.



کابل، رسانه ها:
محمود کرزی دیروز در ولایت قندهار در جنوب کشور اعلام کرد که برادرش قیوم کرزی، رسماً نامزد انتخابات ریاست جمهوری آینده افغانستان است.
محمود کرزی می گوید که در مورد نامزدی برادرش با حامد کرزی رییس جمهوری کشور، صحبت نکرده و تا هنوز آقای کرزی نیز در این مورد واکنش نشان نداده است.
قیوم کرزی در حال حاضر، مصروف تجارت شخصی است و گفته می شود که او چندین شرکت تجاری بزرگ دارد
موضوع نامزد شدن قیوم کرزی امروز از سوی محمود کرزی در یک گردهمایی بزرگ مردمی در شهرک عینومینه شهر قندهار مطرح شد.

بقیه در صفحه ۴

پنټاګون د افغان جګړې لپاره تقریبا اتیا میلیارده ډالره غوښتې

کابل، رسنۍ:
د امریکا د دفاع وزارت په ۲۰۱۴ م کال کې د افغانستان د جګړې د لګښتونو لپاره له کانګرس څخه تقریبا اتیا میلیارده ډالره مرسته غوښتې ده.
د پنټاګون ویاند د دوشنبې په ورځ وویل، د ۲۰۱۳ م کال په مقایسه به د پیسو په دې غوښتنه کې د اته میلیاردو ډالرو په اندازه کمی راغلی دی.

پاتې ۴ مخ

اوباما در مورد طیارات بی پیلوت سخنرانی خواهد کرد

آلمان، رسانه ها:
اکثریت حدود ۴۰۰ حمله مرگبار طیارات بی پیلوت امریکایی که در اثر آن حداقل ۳۵۰۰ تن کشته شده اند، در دوران اداره رییس جمهور اوباما صورت گرفته است.
آژانس خبری دی. پی. ای. آلمان می نویسد:
قصر سفید امریکا در مورد انتخاب اهداف حملات طیارات بی پیلوت، از ارایه جزیات حتی به اعضای کانگرس آن کشور که از لحاظ امنیتی چک هم شده اند، خودداری کرده است.
کسانیکه از حملات مرگبار طیارات بی پیلوت امریکایی در پاکستان، یمن و سایر مناطق جهان انتقاد دارند...

بقیه در صفحه ۴

نگاهی به آزادی و حقوق زنان در اسلام

تورن غلام سخی

تلاش و توجه در مورد حقوق زنان دریغ نورزیده، اسلام را دین معرفت صفات الهی، اخلاق و سلامت روحی و روانی فردی و اجتماعی به جهانیان قلمداد نموده است.

اولین دینی است که بر ضد بی عدالتی، زنده به گور کردن ها و پامال شدن حقوق زن ها قیام نموده است، تاریخ بشریت گواه بر آنست که تا طلوع فجر خورشید جهان آراء اسلام در تمام جوامع بشری زنان منحیث برده و غلام مورد استفاده قرار میگرفتند.

اسلام دینیست که برای اولین بار برضد برده گی، غلامی و بی عدالتی در جهان اعلان جهاد داده است. و درین راه پیامبر بزرگ اسلام از هیچنوع

بقیه در صفحه سوم

د راتلونکو اندېښنو د له منځه وړلو په خاطر ملي اجماع ته اړتیا ده

په راتلوونکو لسو میاشتو کې باید احساساتي سیاست نه وي باید عقلاني سیاس ـ وي، ددې وېرې د لرې کېدو په خاطر یو ملي بحث ته ضرورت دی، چې د هغې په نتیجه کې ملي اجماع رامنځته شي او دا ملي اجماع باید په ملي پروګرام بدله شي او پلې شي.

کابل، رسانه ها:
په افغانستان کې د انتقال د پروسې مشر ډاکټر اشرف غني احمدزی د سې شنبې په ورځ د ننګرهار په پوهنتون کې د راتلوونکو اندېښنو د له منځه وړلو په خاطر یوه طرحه وړاندې کړه.
ښاغلي اشرف **غني** وویل، **چې** اوس د ډېرو خلکو په ذهنونو **کې ۲۰۱۴** یوه لویه بلا ګرځیدلې، **چې په** خبره یې **دا** تبلیغات ټول د بهرنیانو له **خوا دي**...

پاتې ۴ مخ

ننګرهار لوټ شو!

عبدالله کامه وال

- د ننګرهار د مشرانو ترمنځ د قدرت، څوکۍ، مرمۍ ضد موټرو، د دولتي ځمکو غصب او کور جوړولو سیالۍ رواني دي
- ولایتي شورا خو لا د پخوا څېل اهمیت له لاسه ورکړې و او د ولایت پر سر یې حیرانوونکې مقابلې وشوې، په لکونو ډالر، په امان الله خان مینه کې نمرې او قیمتي موټرې په تحفو کې ورکړې شو
- والي هم کله د یوې خوا او کله د بلې خوا مرسته وکړه او په دې توګه یې د ولایتي شورا له خواک او تاثیره خان په امان کې وساته او دا نهه کاله یې نه په ... ز کې تېر کړه

(دوهم مخ)

د یان کوبیش وروستۍ څرګندونې د افغانستان په چارو کې لاس وهنه ده

ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون د افغانستان مساله او د افغانستان ملي شورا به یې په اړه څېله پرېکړه کوي. (مسلمیار)

کابل، رسنۍ:
د افغانستان مشرانو جرګې له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د قانون په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړې استازي وروستي...

پاتې ۴ مخ

سمیع الحق په سلو کې ۹۵ افغان طالبان زما په مدرسه کې روزل شوي

پاکستان، رسنۍ:
د جمعیت علمای اسلام (س) ډلې مشر مولانا سمیع الحق وایي چې افغانستان د ده د مدرسې منت بار دی ځکه چې د ده په وینا د افغانستان په جهاد کې په سلو کې ۹۵ برخوال طالبان له حقانیه مدرسې څخه فارغ شوي دي.
د پاکستان مشرق ورځپاڼې د پرونۍ سې شنبې د ګڼې د راپور له مخې مولانا سمیع الحق دا څرګندونې...

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

هند او چین دې د اندېښنو پرځای عملي ګامونه اوچت کړي

تیره ورځ د هندوستان د بهرنیو چارو وزارت له خوا په یوه خپره شوي پانه کې راغلي دي چې د چین او هندوستان د لومړي وزیرانو ترمنځ تر لیدنې وروسته په یو ګډه اعلامیه کې ویل شوي دي چې د افغانستان روانه جګړه د سیمې امنیت او ثبات لپاره اندېښنه ده، دواړو مشرانو ژمنه وکړه چې ددغې شخړې د هوارې لپاره د سیمې له هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره په ګډه هلې ځلې وکړي.

په افغانستان کې د جګړې له پیل نه تر ننه پورې د نړۍ ټول مشران همدا یوه خبره کوي چې په افغانستان کې روانه شخړه د سیمې او د نړۍ د امنیت او ثبات لپاره اندېښنه ده، خو پوښتنه داده چې که واقعاً همداسې وي او د سیمې هېوادونه په افغانستان کې شخړه د سیمې د هېوادونو په تاوان بولي نو بیا ددغې شخړې د ختمولو لپاره عملي ګامونه ولې نه اوچتوي؟ او په دې خبره ولې غور نه کوي چې په افغانستان کې د دوامدارې شخړې اصلي لاملونه څه دي، او ددې تر شا د چا لاسونه دي؟ کوم هېوادونه ددغې جګړې د دوامداره ساتلو لپاره مرستې کوي؟ دومره مصارف او لګښتونه له کوم ځایه کېږي او څوک یې ورکوي؟! هر څوک ښه پوهېږي چې په افغانستان کې جګړه له بهر نه تپل شوې او ددې تر شا د بهرنیانو لاسونه ملوث دي، تر څو پورې چې دغه بهرني لاسونه لنډ نه شي په افغانستان کې د امن د راتلو خبرې هېڅ ځای نشي نیولې.

که د نړۍ لوی ځواکونه په واقعي معنی په افغانستان کې د امن او ثبات د راوستو هیله لري او دا شخړه د سیمې او نړۍ په تاوان بولي نو ددوی په وړاندې دا دوه لارې خورا مهمې دي:

لومړی دا چې په افغانستان کې د مداخله کوونکو هېوادو د لاسونو د لنډولو لپاره عملي ګامونه اوچت کړي او هغوی دېته اړ کړي چې په افغانستان کې د پوځي او استخباراتي لاسوهنو څخه په کلکه ډډه وکړي.

دویم دا چې د نړۍ لوی پوځي او اقتصادي ځواک لرونکي هېوادونه له افغانستان سره په پوځي او اقتصادي ډګر کې سخاوتمندانه مرستې وکړي او د افغانستان پوځ په پرمختللیو وسلو او تجهیزاتو دومره مجهز کړي چې د بهرنیو مداخلو مخه ونیسي او افغانستان د امن په ګواره بدله کړي.

په مدرنو وسلو سنبال پوځ او ښه اقتصاد د افغانستان لومړنی ضرورت دی چې کله هم دغه دواړه ستر ضرورتونه یې پوره شي د بهرنیو مداخلو لاسونه به هم قطع شي او سیمې امنیت او ثبات ته وریپېښ خطرونه به هم له منځه ولاړ شي.

چین غوندې هېواد چې په اسیا کې مهم پوځي او اقتصادي ځواک بلل کېږي کولې شي چې په افغانستان کې د روانې شخړې د پای لپاره خپل مؤثر او رغنده رول ولوبوي، په افغانستان کې پانګونه وکړي او خپلې پوځي، اقتصادي، سیاسي، سفارتي او انساني مرستې ونه سپموي. د نړۍ لوی ځواکونه او ګاونډیان افغانستان د خپلو ګټو د مسابقې د ډګر د جوړولو پرځای پخپل حال پرېږدي او داسې هېڅ ګام دې نه اوچتوي چې د افغانستان د استحصال بوی تر ېنه راځي، پخپلو کې په دې خبره ژمنه او تعهد وکړي چې لدې وروسته هېڅ یو هېواد به په افغانستان کې لاسوهنې او مداخلې نه کوي.

که د نړۍ لوی ستر پوځي ځواکونه او ګاونډیان په دغو پورتنیو ټکو موافقې ته ورسېږي نو له څه شک پرته افغانستان او سیمه به د جنګ جګړو له سرو لمبو نه خلاصون ومومي که نه نو د سیمې هېوادونه دې دهغو ورځو انتظار وباسي چې په افغانستان کې د پردیو په مداخلو د پیل شوې جګړې اور به نه یواځې د سیمې له هېوادونو راتاو شي، بلکې د ګردې نړۍ امن به هم له ستر ګواښ سره مخامخ کړي، ښه به دا وي چې د نړۍ ستر ځواکونه په ځانګړې ډول د سیمې هېوادونه د افغانستان د جګړې پر تاوانونو ځان پوه او پر وخت عملي ګامونه اوچت کړي، ددې پرځای چې د جګړې اور بل وساتي او افغانستان د خپلو ګټو د پاللو لپاره د مسابقې ډګر وګرځوي دهغه د استقلال او خپلواکي احترام وساتي او له افغانانو سره د یو خپلواک ولس په توګه معامله وکړي.

ننګرهار لوټ شو!

عبدالله کامه وال

مشرقی ته به یې پخوا دسرو پیداکیدو خاله ویله دا سیمه یوه زرخیزه سیمه ده چې نړۍ ته یې ستر فلاسفه اونوابغ وړاندې کړي. دیومشر له خولې مې اوریدلي وو چې محمد ظاهر شاه د هیواد له هرې سیمې مخور راغوښتي و او تر سیاسي او رسمي خبرو وروسته یې له راغلو مشرانو دهغو دسیمو دحاصلاتو او پیداوار په هکله پوښتنې کولې هرچا دخپلې سیمې د زراعت، ښه پیداوار او میوه جاتو په هکله معلومات ورکړل پدې ناسته کې د مشرقي مخور اوسپین ږیري هم ناست وو له هغو یې پوښتنه وکړه چې ستاسو په سیمه کې څه پیداکیږي او خوندور شیان یې څه شی دي نو په مجلس کې ناست یو مشر له باچا و پوښتل چې اعلی حضرت دمشرقي والو دې پوښتنه ونکړه چې په مشرقي کې کوم شیان پیداکیږي؟ ظاهرشاه چې دهیواد د هرې سیمې اودهغې داوسیدونکو سره ښه اشنا و. وویل چې مشرقي کې سرې پیدا کیږي نو ځکه مې پوښتنه ونکړه زه مشرقي او مشرقي وال پیژنم مشرقي دسړو او شخصیتونو دپیدا کیدو کان دی.

رښتیا هم ننګرهار په هیواد کې د علم، فرهنګ، سیاست، اوزراعت له پلوه ځانګړی مقام لري اودهیواد دنورو سیمو شریف ولسونه ننګرهاریانو ته د علم پروره، میلمه پاله او فرهنګي ولس په سترګه ګوري او ننګرهار ته دعلم اوادب زانګو وایې ځکه ننګرهار کې علمي اوفرهنګي ستې زیاتې تیرې شوې لکه دشرق نابغه علامه سیدجمالالدین افغان، دولسونو دبیداری مخکښ مشر پیر روښان، ملي شخصیت ایمل خان مومند، دجهاد اومبارزې اتل عالم مولانا نجم الدین اخوندزاده، اودسیمې نامتو مسلمان مفکر او عالم دکتور محمد موسی شفیق، غازي اومجاهد چکنور ملا صیب، مولوي مرادعلي کاموي چې په لومړی ځل یې دقرآن کریم تفسیر په پښتو ژبه ولیکه، ډاکټر عبدالصمد حامد، مولانا عبدالمجید کوټی خیل، مولانا محمد ابراهیم حمیم، او په فرهنګي برخه کې یې مولانا قیام الدین خادم، پوهاند صدیق الله رښتین، ګل پاچا الفت، پوهاند ډاکټرمجاوراحمد زیار، امان الله سیلاب، استاد محمد اصف صمیم، فضل ولي ناګار، فدا محمد فایض، قتیل خوګیانی او داسې نور چې ننګرهار اوننګرهاریانو ته یې په خپلو علمي هڅو او هاندو ویاړ او عزت بخښلې او ننګرهاریان پرې نن هځکه شمله ګرځي. ننګرهار دوخت اوزمان په بیلابیلو وختو کې داسې رجال ټولنې ته وړاندې کړي چې په سختواو ترینګلو حالاتو کې یې نه یواځې ننګرهارته نجات ورکړی بلکې تومورړو مشرانود هیواد په ګوډ ګوډ کې دخپل ولس دسوکالی پرمختګ، ملي اودیني ارزښتونو دساتنې په لارکې له هیڅ ډول سرښندنې مخ نه دی اړولی او په هره سخته کې دخپل ولس ترڅنګ ولاړ دي او هره هڅه دخدای درضا او د ولس دپرمختګ لپاره وه نه دشخصي ګټو لپاره. هیڅ څوک به دشهید موسی شفیق مانی په ګوته نه کړي چې دواک په دوران کې جوړه کړې وي حال داچې شفیق صیب دبالندېښنیو چارو وزیر، عدلیې وزیر او بیا صدارت ترمقامه ورسیده د هغوی ژوند دیو ارمان لپاره و اوهغه ارمان مانۍ، محلونه، باډیګارډان او موټرې نه و ې بلکې هغه ارمان په خپلو پښو ولاړ سوکاله افغانستان و.

نوهغوی هم ننګرهاریان وو او دا نن هم . که لرې ولاړنه شو په نوې ومه لسیزه کې دکورنۍ جګړې له امله هیوادوال د غم په ټغر ناست وو دپلازمېنې کابل په شمول دهیواد هره برخه داور په لمبو کې سوځیده زمکه سره تبې او قیامت جوړو، نو ننګرهار میشتو مشرانو ننګرهار دخپلو هیوادوالولپاره دامن اوسولې کورجوړ کړی و

په حصار شاهي دشته کې دکابل کمپ نن هم ګواه دی دا دهغه مهال دجهادي شورا هغه اوابتکاروخو نن ورځ خبره سرچپه ده نه د نورو غم خورواونه دهیواد په روان حالت کې کوم تت اوپیکه رول لرو بلکې له یو داسې حالت سره مخ یو چې په تاریخ کې سارې نه لیدل کیږي نو ماته د حضرت خوشال بابا شعرراياد شو چې وایې:

رباهغه پښتانه نورو دا څه نور دی
یا دخدای د ی پداهي شان فرمان،

نن زموږ دمشرانوترمنځ د قدرت، څوکۍ، مرمی ضد موټرو،د دولتي ځمکوغصب اوکورجوړولو سیالي رواني دي دولتي زمکې په ختمیدو دي هره ورځ یوه ټوټه زمکه غصب کیږي خو څوک یې دپوښتې نشته ولایت دیو څواړیوالانو په ولکه کې دي هیڅ ډول تعمیري کارونه نه ترسترګو کیږي، دعایداتو زیاته برخه شخصي جیبونو ته ځي، والي ځان یې تاجه باچا ګڼي، دننګرهاریانو بې اتفاقی ورته دچوراوتالان زرینه موقع په لاس ورکړې. ولایتي شورا خو له پیله داختلافاتوښکار ده د شورا په ریاست هغه څه وشول چې دویلو نه دي توله شورا دیو کورنۍ دخپلو اوخواخشاتو قرباني شوه ډیره موده د شورا وروته تړل شوې وو دشورۍ برریاست حیراتونکې مقابلې وشوې په لکونو ډالرو اوښته رااوښته او د ولایتي شورۍ دښځینه وکیلاتودرایې قیمت تر پنځوس زره ډالره ورسیده. ملاماتونکي لګښتونه وشول دهرې ډلې لخوا دلوکسو موټرو تحفې، دکورنو کرایی او په امان الله خان مینه کې نمرې ورکړشوې داهره څه دخپلو ګټو اوسیاسي حضوردثابتولو لپاره وشو. ولایتي شورا په ولس کې خپل اهمیت اوباور له لاسه ورکړی اوهغه خلکوچې ورته رایه ورکړې وه په پښیمانو پښیمانه دي؟ والي صیب هم ګله دبوې خوا اوکله دبلې خوا مرسته وکړه اوپدې توګه یې دولایتي شورا له څواک او تاثیره ځان په امان کې وساته او دا اته کاله یې ښه په درزکې حکومت وکړ نوش جان رښتیا هم کندهاریان په حکومت کولو پوهیږي اوهغه فورمول یې عملي کړ چې که غواړې ارام حکومت وکړي نو دولسونو ترمنځ درز واچوئ یې اتفاقي جوړه کړئ او خپل حکومت وکړئ نو والي صیب منم دې. میډیا چې څلورمه قوه ورته ویل کیږي هم په خوله خاورې راشکلي ته به وایی هیڅ خبره نشته پرته دتشریفاتي مراسمودنشر نور هیڅ هم خبرنه لرې داسې ښکاري چې په ننګرهار کې میډیاهم د مافیایی کړیو په ولجه کې ده د ولایت د میلمستیاو اونورو چارواکو دمهربانیو له مخې یې خوله ګونګه ده خو داسې ویل کیږي چې ولایتي چارو اکو په میډیاکې هم درز اچولی په ننګرهار کې فرهنګیان اوژه،نالستان هم په څو ډلو ویشل شوي دهرچا ډله معلومه ده اوهر یو پدې کوشش کې دی چې دوالي صیب له مهربانیو مستفید شي لنډه داچې فرهنګیان هم پدې بدختې کې برخه لري

ولایت ته نیږدې تجاراتو هم پدې لوټ تالان کې خپل کردارادا کړې په ننګرهار کې هر ډول قراردادونه له دوه درې تنو بدنامو سره کیږي اوداسې هم ویل کیږي چې یادتجاران دولسوالانو اولوړپوړو چارواکو په ټاکنه اوتغیروتبدیل کې هم لوی لاس لري دوالي صیب دمهرباني او کلکې ملګرتیا برکت دی چې دننګرهار بریښناد هم همدې ښاغلو په منشر جلیږي دمیوې او سبزی منډی او اودولسوالیو دموټرو هډې هم د دوی له بانډه بل څوک نه شي اخیستی دولتي بریښنا ترډیره وخته دجنراتوري بریښنا په نامه پرولس پلورل کیده داټول هرڅه ځکه کیږي چې ننګرهار بې دستاره دی سړي شته خو هغه چې خوشال بابا ورته سړي وایی نه ښکاري هغوی چې ځانونه دننګرهار مشران ګڼي اودمشرۍ پرګدۍ ناست دي پرننګرهاریانو تجارت کوي اوپردې روانه بدبختۍ کې لوی لاس لرې داپه نامه دننګرهار استازي او سیاسیون له دې هرڅه خبر دي خو غوږ پرې نه ګروي ځکه چې دوی پخپله دځمکو په غصب او د خپلسرو ډلو ټپلو په حمایه اوملاتړ کې شریک دي په ننګرهار کې یوه ډله چې دولسي جرګې دیونن غړي اوپخوانیو بدنامو داړاماړانو نه جوړه ده دننګرهار د دشتو اوسیندونوپر غصب لګیا دي پدې ډله کې چې ټول ننګرهاریان یې پیژني دکونړ بوشمیر په نامه جهادي مخور اوپانګوال غاصبین هم ونډه لري داډله هرسهار دښاغلي وکیل حجره کې راټولیږي اوپردې بحث کوي چې کومه دشته پاتې ده چې شي یې کړو.

په ګومه ولسوالی کې دقومونو ترمنځ پرځمکه او دشته لانجه ده چې واک ترې واخلو اوبیا یې پر حاجي صیب مبارک وپلورو ځکه حاجي صیب له خپل ولس نه دنمرو پرنامه په میلیونونو روپۍ راټولې کړې او پدې اوهغې یې غولوي چې دادې دسرخ دیوال پرځمکې دقومونو ترمنځ لانجه ده واک مو اخیستی موږ یې اخلو تاسو غم مه کوئ دبهسودو دخانکی ځمکه خو مې بیخي خپله کړې یوڅه ستونزې دې هغه به هم ژرتر ژره هوارې شي اول به یې تاسو ته درکوم ستاسو حق دی حاجي صیب پراوږده ډیره لاس راکاړې اوبه خندا شي وارخطا کیږئ مه ننګرهار مو خپل کړی نوننګرهار اوس دداسې یو حالت سره لاس او ګریوان دی او دداسې ښاغلوې په لاس کې دی.

دا ښاغلي چې هم سبا مړه شي بیا به یې واټونه اوچوکونه په نامه نومول کیږي مکتبونه اومدرسې به یې په نامه شي ګڼي عکسونه خواوس دورځې مود ګرځیدلی هر چا چې ځان پسې باردیګارډ ګرځولې عکسونه یې په سرکونو لړیدلي اوپه قسمه قسم القابو یې نومولي شهید، غازي، سپاه سالار اوداسې نور چې زه ورسره اشنانه یم نو زه هغو ولسونو ته چې د ننګرهار عزت او وقار ورته تر خپلو شخصي ګټو لوړ ښکاري وایم چې ننګرهار د یو بدحالت سره مخ دی راشئ او پر دې ښاغلو جرګه شئ چې هم ددوی تاریخ له بدنامی وساتو او هم د ننګرهار راتلونکی له دې بدحالت نه وژغورو.

نگاهی به آزادی و حقوق زنان در اسلام

(ادامه، از صفحه اول)

...با زنجیرها بسته میشدند و شب ها در شکنجه و آزار بسر میبردند و روزها در مزارع داغ و سوزان و کنار رودخانه ها با انواع تکالیف و مشکلات امرار معاش می نمودند. مصر قدیم، روم قدیم، یونان قدیم، هند قدیم، چین قدیم و اطراف بحیره مدیترانه که همه مهد تمدن بشری را تشکیل میدهند و امروز جهان غرب بنام آنها افتخار میکند، از روزگار باستان تا قرن (۲۰) زنان در آن جاها مورد تجاوز، تهدید و شکنجه قرار داشتند و تمامکارهای شاقه و طاقت فرسا بدوش زنان بود. ما تاریخ فراعنه را در مصر قدیم مطالعه نمودیم که زنان را مانند حیوانات مورد استفاده قرار میدادند و دختران را به قتل میرسانیدند. در روم قدیم تمام تکمیل مصارف زنده گی بدوش زنان بود و زنان را در بازارها مانند کالا بفروش میرسانیدند و تعدد زوجات حد و حصری نداشت. همچنان در دوران جاهلیت دختران را زنده به گور مینمودند. و هیچ نوع حقوقی بزنان قایل نبودند. قبائیلکه دختران زیاد داشتند با تنگ و عار در بین دیگران زندگی میکردند. کشتار بیرحمانه زنان و دختران در دوران جاهلیت نمونه بارز این مدعاست.

همچنان در یونان و هند قدیم، زنان را برهنه مینمودند و با غل و زنجیر می بستند و آنها را نکبت بارترین موجود روی زمین میدانستند. با جزئی ترین گناهی آنها را از حیات طبیعی شان محروم میساختند. در چین قدیم مردان در خانه ها زنده گی مینمودند و زنان با شکار حیوانات، ماهیگیری و با تحمل انواع مشقت ها مصارف یومیه آنها را تهیه مینمودند. خلاصه اینکه تا قرن بیستم در جوامع غیر اسلامی حقوق زنان پامال و زنان حق رای و حق ماموریت را در این کشورها نداشتند.

انگلستان تا سال ۱۹۲۱ میلادی برای زنان حق انتخاب و حق رأی دهی را در پارلمان قایل نبود. در حالیکه انگلستان از جمله کشورهایست که طبل دموکراسی را در جهان می نوازد. و خود را مدعی دفاع از حقوق بشر و حقوق زن میداند. حقوقی را که امروز در جوامع غیر اسلامی برای زنان قایل اند، همان حقوقی است که دردوران جاهلیت اعراب برای زنان قایل بودند.

ما در جوامع غرب امروز می بینیم که زنان چطور مورد استفاده قرار میگیرند. در کاباره ها، نایت کلب ها و سمپاولی ها بدون تکمیل مراحل ازدواج با هم مقاربت جنسی مینمایند و قانون همجنس گرایی که یکی از بدترین و وحشی ترین عمل در تاریخ بشریت است در این کشورها به تصویب میرسد. هزاران مرد با هزاران مرد و هزاران زن با هزاران زن طی مراسم رسمی دولتی ازدواج مینمایند. در حالیکه این قبیح ترین جنایت را حیوانات مرتکب نمی شوند. میلیونها انسان را که از قباحت و جنایت اخلاقی اعمال نامشروع بدنیا میآیند فهمیده نمی شود که اینها فرزندان کی ها اند؟! زنان حق طلاق را در محکمه دارند و هر زنیکه در این کشورها زنده گی میکند، شوهران شان با جزئی ترین عکس العمل در برابر آنها به محکمه برده می شوند.

تعریف دموکراسی و آزادی در قاموس و فرهنگ آنها فقط هر چه که میخواهند انجام میدهند کسی دیگری حق مداخله را در امور ایشان ندارد، حتی بسیاری از آنها نمیداند که چگونه به دنیا آمده اند و پدر و مادر آنها کی ها اند.

اسلام خشونت با زنان را آنقدر مورد تهدید قرار میدهد حتی ضرب و شتم که سبب جراحت جزئی در وجود شان گردد منع فرموده است. و زنا را با زنان از بدترین و دنی ترین عمل بشری تلقی نموده و آنرا مصدر همه بی حیایی ها و بداخلاقی ها میداند. زنا در هر حالت از نظر اسلام زنا است، کدام مورد استثنایی ندارد، و کسی که بدون عقد نکاح بر زن تجاوز جنسی انجام میدهد زنا است. درآن رضا واکراه شرط نیست.

زنا را مصدر همه، بی حیایی ها و بداخلاقی ها دانسته و آنرا وسیله، شیوع امراض مهلک که شیرازه، اجتماع انسانی را از بین میبرد میداند. شرعیت تعدد زوجات را به استناد آیه، قرآنی (ما طاب لکم...) که یکمرد میتواند دو، سه و یا چهار زن را در حباله نکاح خود درآورد، بشرط آنکه در بین آنها عدالت را مراعات نماید.

ترتیب قانون مخالف این حکم بمعنی خروج و سرکشی از دین است، هرکسی در مغایرت با قانون و احکام الهی، قانونی دیگری بسازد در حقیقت از دایره دین خارج شده است و هر که حدود و قصاص را در مورد تطبیق مجازات که شرعیت بر آن قایل است انکار کند در کافر بودن آن هیچ شکی نیست.

زمانیکه جوامع غربی و پیروان آن دانستند که بزرگترین حربه زننده، که جامعه اسلامی را به امراض مهلک اجتماعی مبتلا نموده و تمام هویت اسلامی و فرهنگی آنرا از بین میبرد، فقط سیاست های شیطانی است که با استفاده از زنان آنها را میتوان نابود ساخت. بزرگترین امپراطوری ها را توانستند با استفاده از این سلاح اغواگر سقوط بدهند، نمونه، آن امپراطوری بزرگ عثمانی و اندلسی ها بود که با همین وسیله از پاه درآمدند.

اسلام: این آئین نجات بخش و قایل به کرامت انسانی دارایی اصول و ضوابط ایست که پیروی از آن بالای هر مسلمان فرض بوده و عدول از آن مطابق به قانون الهی قابل مجازات میباشد. آزادی و حدودات آن از خود تعریف مشخصی دارد. عدالت اجتماعی اساس و نهاد اصلی این مکتب بزرگ آسمانی را تشکیل میدهد. هیچ کسی در این مکتب برتری نسبت به دیگری ندارد، هیچ نژادی، هیچ رنگی و هیچ زبانی در فلسفه این قانون ربانی برتری بر دیگری ندارد. مگر از لحاظ تقوی.

آنقدر احترام به حقوق زن در این قانون جاویدانه و انسان ساز رعایت گردیده که در هیچ دین و قانون دیگری به چشم نمی خورد. شارع اعلی (خداوند) قانون خویش را بخاطر نجات بشر و تکمیل مکارم اخلاق آن و همچنان بخاطر خلافت و معرفت اسرار کائنات و صفاتش برای انسانها فرستاده است، هیچ نوع تجاوز و تخلف در آن نسبت به حقوق زنان دیده نمی شود. همینطور ایجاد خانه های امن که سبب فرار زنان و دختران از منازل مسکونی آنها گردیده است مخالف احکام اسلامی ماست در اسلام خانه امن برای زنان جز محیط فامیل با محارم آن جای دیگری نیست. از زمانیکه خانه های امن ایجاد گردیده موضوع فرار زنان از منازل مسکونی بیشتر و میزان جنایات بیشتر گردیده است.

هیچنوع تجاوز و تخلف در دین اسلام نسبت به حقوق زنان دیده نمی شود، اسلام دین آزادی بخش است، اکراه و جبر را نمی پذیرد و در آن حقوق زنان در مقایسه با مردان بیشتر مورد تأکید قرار گرفته است و در تمام متون دینی و فقهی به کثرت حقوق و امتیازات زنان در مقایسه بامردان دیده میشود.

اسلام طلاق را یکی از مبغوض ترین افعال انسانی میداند ولی بخاطر حل مشکل اجتماعی برآن تأکید نموده و صلاحیت طلاق را برای مردان میسپارد.

نکاح را عقدی بخاطر ازدواج و ایجاد جامعه، انسانی و نجات از غرایز شهوانی میداند و برای نکاح سن قانونی ازدواج را بطور صریح و آشکارا بیان نموده که همه، متون فقهی، کتاب های بزرگ احادیث، فتوی و کتاب های مشروح فقهی همچون هدایه، فتح القدیر، رد المختار، فقه اسلامی، صنایع و بدایع و سایر شروح حدیث مملو از آن میباشد. و بطور مشرح در آنها تذکر رفته است کسانیکه میخواهند در رابطه به حقوق، آزادی ها، وجایب و مکلفیت های زنان در رابطه به خشونت و عدم خشونت معلومات حاصل نمایند باید به کتابهای ذکر شده مراجعه کنند و از احکام قرآنی و احادیث نبوی استمداد بجویند تا مشکل شان از این ناحیه مرفوع گردد. در غیر صورت هر کسی حکم به ما انزل الله نکند و مخالف آن قانون بسازد شکی نیست که از دایره دین الهی خارج شده است.

اثرات انتخابات پاکستان بر اوضاع افغانستان

اعزامی

در انتخابات پارلمانی پاکستان که به تاریخ ۱۱ می ۲۰۱۳ برگزار گردید. حزب مسلم لیگ به رهبری نوازشریف. اکثریت کرسی های پارلمان را به خود اختصاص داد. انتخابات ۲۰۱۳ پارلمانی پاکستان در شرایطی برگزار گردید که موج وسیعی از انفجارها در دوران مبارزات انتخاباتی. جریان کمپاین کاندیدان حزب حاکم مردم و متحدین آن (عوامی نیشنل پارتی و متحده قومی مهاجر مومنت) را اخلال می کرد. در جریان این ناآرامی ها چهار نفر از کاندیدها به قتل رسیدند که در اثر آن رأی گیری در حوزه های مذکور به تعویق انداخته شد. درین انتخابات از جمله ۸۴ میلیون پاکستانی واجد رأی، ۷۰ – ۸۰ درصد آنها در انتخابات سهم گرفتند که این سهمگیری با فیصدی بالا، به معنای حضور گستردهٔ مردم در انتخابات پارلمانی می باشد.

پس از تولد پاکستان در جغرافیای سیاسی جهان در سال (۱۹۴۷ م) و جدایی از نیم قارهٔ هند، این اولین باری است که در طول مدت ۱۱ انتخابات پارلمانی پاکستان، یک حکومت ملکی به طور نورمال دورهٔ کار خود را تکمیل نموده و پس از برگزاری انتخابات، قدرت را به یک حکومت ملکی دیگر می سپارد.

حزب مسلم لیگ که در سال های اخیر به چند پارچه تقسیم شده است، یکی از احزاب سیاسی قدیمی و نیرومند پاکستان با داشتن اندیشه های محافظه کارانه می باشد، این حزب توسط محمد علی جناح (قائد اعظم و بنیانگذار پاکستان) قبل از ایجاد پاکستان تأسیس شده بود. حزب مسلم لیگ شاخه نواز به رهبری میا نواز شریف بزرگترین شاخه حزب مسلم لیگ و یکی از نیرومند ترین احزاب سیاسی پاکستان به شمار می رود.

رهبر این حزب میا نواز شریف از اهالی ایالت پنجاب و یکی از سرمایه داران بزرگ پاکستان به شمار می رود، نامبرده در دههٔ ۹۰ میلادی با پیروزی حزب مسلم لیگ در انتخابات پارلمانی، دو بار به صفت صدراعظم پاکستان انتخاب گردید و آخرین بار با کودتای نظامی جنرال پرویز مشرف از قدرت خلع و زندانی گردید. نوازشریف بعد از سپری کردن مدتی در زندان، به وساطت پادشاه عربستان سعودی از زندان خارج و در کشور سعودی در حال تبعید به سر میبرد. پس از سقوط حکومت نظامی پرویز مشرف و به قدرت رسیدن حکومت ملکی به رهبری حزب مردم، نواز شریف به پاکستان برگشت و در طول سال های زمامداری حزب مردم، با ایفای نقش سیاسی در جایگاه حزب مخالف در پارلمان، برای سازماندهی مجدد حزبش فعالیت می کرد تا اینکه در انتخابات اخیر با بدست آوردن اکثریت کرسی های پارلمان، مامور تشکیل حکومت در پاکستان گردید.

نوازشریف در جریان کمپاین انتخاباتی در بیانیه ها و پیام های انتخاباتی خود، بر دوستی و همکاری با افغانستان تأکید کرده و میگفت: حکومت وی آماده است که با دولت افغانستان در امر مبارزه با دهشت افگنی و تأمین صلح و آرامش در افغانستان همکاری نماید. نوازشریف و عمران خان رؤسای احزاب مسلم لیگ و تحریک انصاف در جریان مبارزات انتخاباتی شان به مردم پاکستان وعده میدادند که در صورت کسب اقتدار سیاسی از بمباردمان و پرواز هواپیماهای بی پیلوت امریکایی در مناطق قبایلی در امتداد مرز مشترک پاکستان و افغانستان جلوگیری میکنند و ادامه این وضعیت را تهدید جدی به استقلال و تمامیت ارضی میدانند. احتمالاً یکی از عوامل کامیابی این دو حزب در انتخابات پارلمانی دادن همین پیام ها به مردم بوده باشد. عمران خان در پیام هایش به مردم ایالت خیبر پشتونخوا می گفت که در صورت پرواز طیاره های مذکور بر فراز خاک پاکستان به ارتش امر شلیک و سقوط آنها را خواهد داد و این موجب شد که حزب تحریک انصاف در انتخابات ایالتی خیبر پشتونخوا بیشترین کرسی ها را از آن خود کند و شاید هم این حزب به تنهایی حکومت ایالتی خیبر پشتونخوا را تشکیل بدهد.

بعضی از صاحب نظران به این باور اند که با پیروزی حزب مسلم لیگ در انتخابات پاکستان و تشکیل حکومت در آن کشور تحت ریاست نوازشریف، در سیاست حکومت پاکستان نسبت به افغانستان تغییر قابل ملاحظهٔ رونما نخواهد شد، زیرا سیاست خارجی حکومت پاکستان، در رابطه به همسایگان آن کشور (افغانستان و هند) غالباً توسط ادارهٔ استخبارات ارتش آن کشور (ISI) برنامه ریزی می شود و بعضی آگاهان دیگر نوازشریف را از جمله همفکران و بقایای جنرال ضیاء الحق میدانند و میگویند که او نقش قدم وی را در قضیهٔ افغانستان تعقیب میکند. مگر دولت مردان حاکم و اغلب اگاهان سیاسی، روی کار

آمدن حکومت نوازشریف را در عرصهٔ سیاسی پاکستان، به فال نیک گرفته و با توجه به پیام ها و وعده های دوران کمپاین انتخاباتی او، از ایجاد تحول مثبت در روابط دو کشور خبر میدهند، به این دلایل که:

- نوازشریف در گذشته و حال رهبری حزب محافظه کار مسلم لیگ را به عهده داشته و این حزب در میان احزاب راست و چپ پاکستان، با اتخاذ موقف اعتدال سیاست هایش مبتنی بر خیر و صلاح پاکستان و داشتن روابط خوب با همسایگان آن است.

- دو دوره صدارت و سپری کردن یک دهه زندان و تبعید، نوازشریف را در کورهٔ سیاست پاکستان به حدی آب دیده نموده که شاید او با انتباه از اشتباهات سیاست های حکومات نظامی و ملکی سلفش، راه های معقول را در برقراری مناسبات کشورش با افغانستان جستجو نماید.

- مداخله ادارهٔ استخبارات ارتش در سیاست حکومت پاکستان شاید مانع عمده در برابر پالیسی های او نباشد، زیرا دورهٔ ماموریت فرمانده فعلی ارتش پاکستان به پایان رسیده و تعیین فرمانده جدید به رأی و مشوره صدراعظم جدید صورت میگیرد.

- پیام ها و وعده های انتخاباتی نوازشریف مبنی بر داشتن روابط حسنه با همسایگان و همکاری بیدریغ در حل بحران افغانستان.

- اظهارات اخیر نوازشریف مبنی بر وعده همکاری با ایالات متحده امریکا در خارج نمودن نیروهایش از افغانستان و حل اختلافات سیاسی با هندوستان از طریق تفاهم و مذاکره.

با توجه با نکات فوق الذکر، در محافل سیاسی این امیدواری قوت می گیرد که حکومت جدید پاکستان با تجدید نظر بر سیاست های حکام اسبق آن کشور، راه تفاهم و مدارا با دولت افغانستان را در پیش خواهد گرفت و به خاطر اعادهٔ صلح و امنیت در افغانستان همکاری خواهد نمود، جلوه آمد و رفت جنگجویان مخالف حکومت افغانستان را از آن سوی مرز مشترک به داخل افغانستان خواهد گرفت و در رهایی سران طالبان از زندان های پاکستان همکاری نموده و آنها را تشویق خواهد نمود تا در گفتگوهای صلح با دولت افغانستان شرکت نماید. هر چند درگیری های اخیر مرزی میان دو کشور در ولسوالی گوشته ولایت ننگرهار تا حدی فضای مناسبات میان هر دو کشور را تیره نموده، ولی یقیناً این درگیری ها نتیجه رسوب ذهنی حکام قبلی آن کشور بوده توقع می رود که حکومت نوازشریف روش و آهنگی جدیدی را در تعیین سیاست اتخاذ خارجی پاکستان اتخاذ خواهد کرد.

دغه رنګ مو ناسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

قیوم کرزی رسماً نامزدی خود ...

حرف و حدیث های زیادی در مورد نامزد شدن یکی از برادران رییس جمهوری در انتخابات ریاست جمهوری کشور مطرح بود. حامد کرزی قبلاً گفته بود که در مورد حمایتش از نامزد مشخص به نتیجه نرسیده است.

محمود کرزی می گوید که به تازگی با قیوم کرزی جریان سیاسی موسوم به "پشتیبان ملت" را راه اندازی کرده و سخت تلاش دارند که حمایت بیشتر شهروندان افغانستان را در انتخابات ریاست جمهوری بدست بیاروند.

انتقاد از وضع جاری کشور

محمود کرزی در گردهمایی مردمی در شهر قندهار گفت که وضع سیاسی و امنیتی کشور رضایت بخش نیست و مردم افغانستان سزاوار این شرایط نیستند.

او مشخصاً به ناامنی، نوع حکومتداری، فساد اداری، گفتگوهای صلح و شرایط نامساعد با پاکستان اشاره کرد و گفت که این نابسامانی ها محصول حکومت یازده سال گذشته است.

کرزی گفت: "در صورت که قیوم کرزی در انتخابات پیروز شود، به این نابسامانی ها پایان داده خواهد شد و شرایط ایده آل برای شهروندان افغانستان فراهم خواهد شد."

به گفته محمود کرزی، نوعیت عملکرد شورای صلح افغانستان قابل قبول نیست و او تاکید کرد که اعضای این شورا باید از چهره های مطرح مخالفان مسلح، اعضای بلند پایه دولت و چهره های با نفوذ مردمی باشند.

او گفت: "شورای صلح باید یک اداره با صلاحیت باشد، در ولایات که خشونت بیشتر است، کمیسیون های مردمی داشته باشد و در این مورد بیشتر کار کند."

محمود کرزی پیش از این نیز، از عملکرد حامد کرزی انتقاد کرده بود.

قیوم کرزی برادر حامد کرزی رییس جمهور، تحصیلات خود را در بخش علوم سیاسی در امریکا به پایان رسانده است.

او در دور گذشته، نماینده مردم قندهار در ولسی جرگه بود و به دلیل آنچه مصروفیت های "زیاد" در آنزمان اعلام کرد از مجلس استعفا کرد.

قیوم کرزی در حال حاضر، مصروف تجارت شخصی است و گفته می شود که او چندین شرکت تجاری بزرگ دارد.

او شهرک عینومینه قندهار را ساخت جاییکه چند روز پیش در اثر رشته حملات، هفت نفر کشته و بیش از شصت تن دیگر زخمی شدند.

د راتلونکو اندېښنو د له منځه ...

نوموړی وایي، چې دی پر خپلو امنیتي ځواکونو بوره باوري دی او په خبره یې، چې امنیتي ځواکونه د هېواد ساتنې بوره وړتیا لري:

"موږ کې د یوه ملي بحران احساس شته تولو سره دا ویره شته، په افغانستان کې کافي امکانات دي زه له ۲۰۱۴ نه ویره نه لرم، زه واضح درته وایم، چې د امنیت له وجه دولت سکوت نه کوي دا هسې یوه خارجي پروپاګنډا ده."

ډاکټراشرف غني وایي، چې راتلوونکې لس میاشتې افغانانو لپاره یو ستر چانس دی، چې په دې موده کې یو ملي اجماع جوړه شي او دې لپاره یوه ملي بحث ته اړتیا ده:

"په راتلوونکو لسو میاشتو کې باید احساساتي سیاست نه وي باید عقلاني سیاست وي، ددې ویرې د لرې کیدو په خاطر یو ملي بحث ته ضرورت دی، چې د هغې په نتیجه کې ملي اجماع رامنځته شي او دا ملي اجماع باید په ملي پروګرام بدله شي او پلې شي."

اشرف غني احمدزي په جوړې شوې طرحې کې وړاندیز وکړ، چې د ملي بحث په ترڅ کې جوړیدونکي ملي پروګرام ته باید عملي بڼه ورکول شي او باید تیا وکړي د دولو تیلو پر ځای یو ملي روحیه غوره کړي.

ډاکټر اشرف غني احمدزي داسې مهال د راتلونکو اندېښنو د لرې کېدو په خاطر

جوړه کړې طرحه وړاندې کړه، چې یو شمېر هېوادوال ۲۰۱۴ ته په اندېښنه کې دي او ګمان کوي، چې د بهرنیانو له وتلو وروسته به په هېواد کې د تېر په څېر خپل منځي جنګونه سر راپورته کړي.

خو بناغلي اشرف غني د خلکو دا ټولې اندېښنې بې ځایه وبللې او په خبره یې، چې د افغانستان په تېر تاریخ کې وربنانه شوي، چې په هېواد کې ټل تحولات د ولسونو پر منځ راغلي او اوس هم که ولسونه وغواړي، کولی شي، چې په افغانستان کې د لاښه وضعیت په لور تحولات رامنځته کړي.

پنټاګون د افغان جګړې لپاره ...

په دې لګښتونو کې پر نورو پوځي لګښتونو سربېره په ۲۰۱۴ م کال کې له افغانستان څخه د محاربوي امریکایي سرتیرو د ایستلو مصارف هم شامل دي.

د امریکا د دفاع وزارت وایي، چې د جمعې په ورځ بې د دې هېواد کانګرس ته په ۲۰۱۴ م کال کې د افغانستان د جګړې لپاره د څه کم اتیا میلیارده ډالرو غوښتنه په رسمي توګه سپارلې ده.

د دفاع وزارت ویاند جورج لیټل د دوشنبې په ورځ خبریالانو ته وویل، د پیسو دا اندازه د ۲۰۱۳ م کال په مقایسه په سلو کې لس کمه ده.

په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو د سږ کال لګښتونه څه د پاسه اوه اتیا میلیارده ډالر یاد شوي دي.

ویل کیږي؛ چې پنټاګون د امریکا کانګرس ته په مجموعي ډول دوه میلیارد ډالرو د بودیجې غوښتنه سپارلې؛ چې په دې کې په افغانستان کې د امریکایي سرتیرو پوځي لګښتونه او په ۲۰۱۴ م کال کې له دې هېواد څخه د سرتیرو د ایستلو لګښتونه هم شامل دي.

امریکایي چارواکو تر دې مخکې اټکل کاوه؛ چې د افغانستان د جګړې په لګښتونو کې به د پام وړ کمی راشي، خو دا موضوع تر اوسه نه ده روښانه شوې چې د افغانستان څخه د سرتیرو او تجهیزاتو ایستل به تر هغې چې اټکل یې کېده زیات لګښت وغواړي.

د فرانسې د خبري اژانس په وینا دا مهال په افغانستان کې درې شپېته زره امریکایي سرتېري ډیره دي او تمه ده؛ چې څلور دیرش زره سرتیري به د ۲۰۱۴ م کال په فبروري میاشت کې له افغانستان څخه ووځي او وروسته به په افغانستان کې د امریکا پوځي ماموریت د ۲۰۱۴ م کال په اخر کې پای ته ورسیږي.

د ۲۰۱۳ م کال په مقایسه په ۲۰۱۴ م کال کې یوازې د افغانستان په ماموریت کې د امریکا د پوځ په بودیجه کې اته میلیارده ډالر کمی راغلی دی.

ولسمشر بارک اوباما د جمعې په ورځ په سلو کې لس دا کمښت کانګرس ته پیشنهاد کړی و.

خبرونکي اوس په دې باور دي؛ چې د امریکا په پوځي بودیجه کې کمښت به ددې سبب شي چې دا هېواد په افغانستان کې د خپلو سرتیرو شمېر راکم کړي.

افغانستان او امریکا په خپلو کې د اوږدمهالو ستراتیژیکو همکاریو سند لا دمخه لاسلیک کړی دی خو د امنیتي تړون پر سر لا هم د دواړو هیوادونو ترمنځ خبرې اترې رواني دي.

ولسمشر حامد کرزي په دې وروستیو کې څرګنده کړې ده چې د امریکا متحده ایالات له افغانستان څخه نهه پوځي اډې غواړي، خو تر اوسه پورې د هغو سرتیرو شمېر څرګند نه دی چې ټاکل شوې ده له ۲۰۱۴ م کال وروسته په افغانستان کې پاتې شي.

یو شمېر اټکلونه وایي؛ چې په افغانستان کې به له ۲۰۱۴ م کال وروسته د پاتې کیدونکیو امریکایي سرتیرو شمېر له لس زرو څخه زیات نه وي.

د بان کوېښ وروستي څرګندوني ...

...څرګندوني وغندلي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د افغان هوایي ځواکونو اړتیاوې

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په خپلې نوې ګڼې کې د افغانستان د هوايي ځواکونو د اړتیاوو په هکله یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي چې، د افغانستان اردو په تیرو لسو کلونو کې د سلګونو امریکایي هلیکوپټرو په وسیله له لیرې سیمو خپل ټپي عسکر انتقال کړي دي.

اوس چې افغان ځواکونه د خپل هیواد د امنیت ټول مسوولیت په غاړه اخلي او سختې جګړې یې په مخ کې دي، امریکایي هلیکوپټر له افغانستانه وځي.

واشنګټن پوسټ لیکي، چې افغان هوایي ځواکونه شپېته هلیکوپټرې لري؛ خو له اکثرو یې په ټولو مواردو کې کار نه اخیستل کیږي او کومه یوه یې هم بواځې د ټپیانو د انتقال لپاره نه ده ځانګړې شوې.

ورځپاڼه لیکي، هغه جنګ چې د امریکا اردو یې په افغانستان کې کوي او دغه اردو د نړۍ له ټولو پیاوړې اردو ګڼل کیږي له هغه جنګه چې د افغانستان اردو یې کوي او د نړۍ له ټولو نوې اردو او په نړیوالو مرستو ولاړه ده ډیر توپیر لري.

واشنګټن پوسټ زیاتوي چې، د هوا له لارې د ټپیانو د انتقال په برخه کې لویه خلا نه یواځې د طالبانو په څیر یو سرسخت دښمن د ماتولو لپاره د افغانستان د اردو د توانمندۍ په اړه پوښتنې رامنځ ته کوي؛ بلکې دا پوښتنه هم رامنځ ته کوي، چې دغه اردو به څرنګه وکولای شي؛ د غیرضروري تلفاتو مخه ونیسي.

ورځپاڼه لیکي، چې د افغانستان د اردو او پولیسو شاوخوا ۲۵۰ عسکر هره میاشت وژل کیږي او دغه شمېره د بهرنیو قواوو له میاشتیو تلفاتو ډیره اوچته ده.

واشنګټن پوسټ لیکي، چې امریکا تیرکال وکولای شول ۴۷۰۰ ټپي عسکر د خپلو هلیکوپټرو په وسیله په افغانستان کې انتقال کړي په داسې حال کې چې د افغانستان اردو یواځې د ۴۰۰ ټپي عسکرو د انتقال وسه درلوده.

بل خوا د برتانیې ټایمز ورځپاڼې په خپلې وروستۍ ګڼې کې په افغانستان کې د ښځو د حقوقو دلایحې په اړه یوه مقاله خپره کړې ده.

ورځپاڼه لیکي، په افغانستان کې د ښځو د حقوقو په اړه بحث او مناقشو وروسته له دې ځای ونه نیوه؛ چې د ولسي جرګې یو شمېر وکیلانو غوښتنه وکړه چې؛ د جمهور رییس هغه تقنیني فرمان چې په دې اړه یې صادر کړی باید لغوه شي.

دغه فرمان چې، د ښځو سره زورزیاتی منع کوي او د تنکیو نجونو ودول او اجباري ودونه منع کوي، درې کاله پخوا جمهور رییس لاس لیک کړی دی او سلګونه سرغړوونکي یې بندي شوي دي.

ورځپاڼه لیکي چې، د پارلمان محافظه کار غړي د دغه فرمان ځینې برخې د اسلامي شریعت مخالفې ګڼي. دوی په جمهور رییس کرزی تور لګوي چې؛ د دغه فرمان په امضا یې د شریعت مخالفت کړی دی.

ټایمز ورځپاڼه د ولسي جرګې د یوې غړې، فوزیې کوفي له قوله لیکي، چې وایي، زه داډمنه نه یم، چې د افغانستان راتلونکی جمهور رییس به د ښځو حقوقو او خصوصاً دغه فرمان ته متعهد پاته شي.

میرمن کوفي چې وایي، خپل ځان راتلونکو انتخاباتو ته کاندیدوي هیله لری چې؛ پارلمان دغه فرمان تصویب کړي.

کوفي زیاتوي چې له بده مرغه داسې ښځې هم په پارلمان کې شته چې د دغه لایحې مخالفې دي او هغه یې مایوسه کړې ده.

نوموړي په یوې اعلامیې کې له حکومت او ملي شورا څخه غوښتي؛ چې د یاد قانون درناوی وکړي او په بشپړه توګه یې عملي کړي.

بل خوا د یوناما یوه ویاند ازادي راډیو ته ویلي، چې افغانستان د توکیو په کنفرانس کې له نړیوالې ټولنې سره ژمنه کړې؛ چې د ښځو حقونه به خوندي کوي.

مشرانو جرګې له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د قانون په اړه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتون د عمومي منشي د ځانګړي استازي وروستي څرګندوني وغندلي او هغه یې د افغانستان په چارو کې لاس وهنه وبلله.

د سې شنبې په ورځ په مشرانو جرګې کې له نورو مسایلو سربېره په یاد قانون او د هغې په اړه د بان کوېښ په څرګندونو هم بحث وشو.

د مشرانو جرګې رییس فضل هادي مسلمیار وویل؛ چې له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي قانون د افغانستان مساله او د افغانستان ملي شورا به یې په اړه خپله پریکړه کوي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازي یان کوېش په یوې مطبوعاتي اعلامیې کې د افغانستان له حکومت او ملي شورا څخه غوښتي؛ چې له ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د قانون درناوی وکړي او عملي یې کړي.

نوموړي دغه پیغام په داسې حال کې ورکړ؛ چې یاد قانون دا مهال په ولسي جرګې کې دی او د دې جرګې د یو شمېر غړو له مخالفت سره مخ شوي دي.

په دې قانون کې په کم عمر کې د نجونو ودول، د ښځو وهل ټکول او اجباري ودونه جرم بلل شوی او عاملین ته یې سزاوې ټاکل شوي دي.

بل خوا په کابل کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه ماموریت چارواکي وایي؛ چې افغانستان د توکیو په کنفرانس کې له نړیوالې ټولنې سره د ددوه اړخیزې حساب ورکولو یو چوکاټ رامنځ ته کړی دی.

د افغانستان مشرانو جرګه په داسې حال په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي په څرګندونو انتقاد کوي، چې په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه د تیرو لسو کلونو راهیسې د همدې سازمان په اجازه فعالیت کوي.

په عین حال کې به تیرو یولسو کلونو یوناما د افغانستان د انتخاباتو په ګډون بېلابېلې پروسې خارلې او یا یې هم په تطبیق کې مرسته کړې ده.

سمیع الحق په سلو کې ۹۵ افغان ...

وروسته له دې وکړې چې نوازشریف له ده څخه په یوه پیغام کې په پاکستان او سیمه کې د امن او سولې له ټینګېدو سره د مرستې غوښتنه وکړه.

د مشرق د راپور پراساس سمیع الحق وویل چې په پاکستان کې د امنیت او سولې له راوستلو سره هرراز مرستې ته تیار دی خو شرط دا دی چې هیڅ راز بهرنی فشار به نه مني خو که بهرني فشار ته غاړه کېښودل شوه نتیجه به یې د پخوا په شان وي. د ده اشاره د پیلز ګوند حکومت ته وه چې ناڅو ته یې اکمالاتي لار ورکړې وه او ظاهراً یې په افغانستان کې د سولې ملاتړ کاوه.

ده همداراز وویل چې نوازشریف له اوسنیو حالاتو سره ژوره لیوالتیا ښودلې او د یوه مهم شخصیت په وسیله یې ده ته پیغام ورلیږلی دی.

ویل کیږي چې نوازشریف دا پیغام د آی ایس آی د پخواني مشر متقاعد جنرال حمید ګل په وسیله لیږلی دی.

سمیع الحق د سولې له راوستلو سره مرستې ته چمتووالی ونښود. خو ده ونه ویل چې په افغانستان کې هم د سولې له راوستلو سره مرستې ته تیار دی او کنه دی.

دا په داسې حال کې ده چې پاکستاني چارواکي ادعا کوي تر څو چې په افغانستان کې سوله نه وي راغلې پاکستان هم د سولې مخ نه شي لیدلی.

سمیع الحق د خیبرپښتونخوا اعلي وزارت ته د تحریک انصاف له نوموړ شوي مشر پرویزخټک سره له کتنې وروسته خبریالانو ته وویل: "نوازشریف ته زما اهمیت څرګند دی، الحمد لله زن افغانستان د حقانیه دارالعلوم احسانمن دی، په جهاد کې ۹۵ فیصده شامل طالبان زما له مدرسې څخه فارغ التحصیله شوي کسان دي، دوی ټول ما ته د پلار په سترګه ګوري. دوی هم په دې پوهیږي."

ده دا هم وویل چې د عمران خان (تحریک انصاف) له صوبایي حکومت سره به همکاري وکړي او په داسې حال کې له تحریک انصاف سره همکاري کوي چې د دغه ګوند په صوبایي حکومت کې د ونډې غوښتونکی نه دی.

اوباما در مورد طیارات بی ...

اینک پاسخ به سوالات شان را در بیانیه، رییس جمهور اوباما که در مورد امنیت ملی آن کشور و مبارزه با تروریزم بروز پنجشنبه ایراد خواهد شد، باید جستجو کنند.

به نوشته، آژانس خبری دی. پی. ای. آلمان، یانیه، بارک اوباما در برابر تنش های قرار می گیرد که در زمینه، عدم موجودیت کنترول بالای طیارات بی پیلوت، در کانگرس امریکا وجود دارد. کانگرس و ستراتیژیست های نظامی نگرانی از آن دارند که حملات طیارات بی پیلوت خیلی بعد تر از آنکه شبکه القاعده ضعیف شده است، صورت می گیرد و کشته شدن افراد بی گناه در اثر آن، باعث تقویت احساسات ضد امریکایی می شود.